# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |


نشریه پیشرو شماره ۴۱

۱۳ دسمبر ۲۰۱۱

## افغانستان له لومړي بن څخه تر دويم بن پورې

د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په پنځمه نيټه په جرمني کې د افغانستان په هکله د بن دويمه غونډه جوړه شوه. د افغانستان دولت په ګډون د سلو په شاوخوا کې هيوادونو او نړيوالو سازمانونو په دغې غونډې کې ګډون وکړ. په دويم بن کې د سلو هيوادونو ګډون په خپله څرګندوي چې افغانستان د پرديو د موخو قرباني دی او بايد د تيرو لسو کلونو په څير لږ تر لږه د لسو راتلونکو کلونو لپاره د جګړو په لمبو کې وسوځي.

د طالبانو له ړنګيدو سره سم د ۲۰۰۱ کال د نوامبر په ۲۷ نيټه د لومړي بن غونډې خپل کار پيل کړ. په دغه کنفرانس کې څلورو ډلو (له پيښور څخه د پير ګيلاني کورنۍ- له قبرس څخه جليل شمس، اسحاق ګيلانـي، همايون جرير، تندر او جبار تقوا- لـه روم څخـه د ظاهرشاه کورنۍ، ستار سيرت، ډاکترعبدالرحمن، حامدکرزی، زلمی رسول، رهين او نور- او له افغانستان څخه د شمال ټلواله) ګډون کړی و. يو شمير نور هم د څارونکو په توګه د انجوګانو او نورو سازمانونو په استازيتوب رابلل شوي وو. د بن په تعييناتو کې حامدکرزی د لنډمهالې ادارې رييس، قسيم فهيم مرستيال او د دفاع وزير، او سيماسمر مرستياله او د ښځو چارو وزيره وټاکل شول. هغو کسانو چې د بن په لومړۍ غونډه کې ګډون کړی و، ټول د افغانستان د تيرو درې لسيزو په ناخوالو کې ښکيل او د افغانستان د خلکو لخوا ورته د شک په سترګه کتل کيدل.

د بن په کنفرانس کې فيصله وشوه چې د حامد کرزي په مشرۍ لومړی شپږ مياشتنی لنډمهاله دولت جوړ شي او په دې ترڅ کې د ملګرو ملتونو د سوله ساتنې ځواک چې وروسته د آيساف په نوم مشهور شو، له ۸۵۰۰ ځواکونو سره افغانستان ته راشي او د کابل او نورو سيمو امنيت ونيسي، خو د امريکې په مشرۍ د ائتلاف ځواکونو په هکله څه ونه ويل شول چې د ترهګرۍ پر ضد جګړې تر نوم لاندې افغانستان ته راغلي وو.

د طالبانو د ړنګيدو په درشل کې د شمال ټلوالې مشرانو د کابل د نيولو لپاره ځانونه چمتو کړي وو او د ب۵۲ الوتکو په ليدلو سره په خپلو جامو کې نه ځاييدل. د دوي مشرانو له امريکايي ځواکونو څخه غوښتل چې کوم بمونه چې دوی په افغانستان کې استعمالوي، کوچني دي او بايد «غټ غټ» بمونه پر افغانانو وورو‌ي. له دې کبله له بن کنفرانس او د بهرنيو چارو وزير په توګه د ډاکتر عبدالله او د کورنيو چارو وزير په توګه د يونس قانوني له ټاکل

کيدو وروسته، هغوی لـه آیساف سره دغـه پريکړه لاسليک کړه: «آیساف بشپړه او بلامـانع آزادي لـري چـي د افغانستان په خاورې او هوا کي حرکت وکړي، له هر یو سیاسـي، تولنيز او دينـي مشر سره چي لازم وي، اړيکـه ونيسي، آیساف او مرستندويه ځواکونه يې د هر ډول شرايطو او په ټول وخت کي د مجازات وړ هر ډول جرم يا خطا چي د هغوی لخوا د افغانستان په خاورې کي تر سره شوي وي، د خپلو ملتونـو د قضايي چارواکو تر تابعت لاندې به وي او له هر ډول نيولو او بندي کيدلو څخه به خوندي وي. آیساف به لـه هر ډول مـاليي، ټکس او گمرک څخه معاف وي.» دا د افغانستان د پلورلـو د لاسليک پيلامـه وه. لـه دې وروسته لخضر براهيمـی چي لـه خليلزاد سره يي په گډه د امريکي د گټو لپاره کار کاوه، په بيشرمی اعلان وکړ: «موږ د سولي لپـاره عدالت قربـان کړ.» خو دا سوله يوازې د امريکي امپرياليزم د گټو لپاره قربان شوه، نه د خلکو لپاره.

امريکاييـانو د طالبـانو لـه ړنگيدو وروسـته پـه افغانـستان کـي ظـاهراً درې هدفونـه اعلان کړل: لـه ترهگرۍ سره مبارزه، له مخدره توکو سره مبارزه او دولت جوړونـه. لـه ترهگرۍ او مخدره توکو سره مبـارزه دوه هغـه ستري پلمـي وې چـي د لـومړي ځل لپـاره امريکـايي ځواکونـو د افغانـستان پـه خـاوره بانـدې پـښي کيښودې. کـه څـه هم امريکاييانو په افغانستان کي دولت جوړ کړ، خو دغه دولت يوازې د امريکا او نـورو سترو پانگه والـو هيوادونـو د گټو ساتلو لپاره جوړ شو، نه د افغانستان بيوزلي ولس لپاره. د ترهگرۍ او مخدره توکو پـه وړانـدې مبـارزه هم د امريکاييانو لخوا په «بربالي» ډول تر سره کيږي، ځکه بهرنيو سرتيرو په تيرو لسو کلونـو کـي د بـي گناه خلکو د کورونو، بڼونو، کليو او بانډو پـه ويجـاړولو او د خلکو پـه وژلـو سره ثابتـه کړه چي د دوی د ترهگرۍ او مخدره توکو ضد جگړه څه معنا لري.

لـه لـومړي بـن سره سم پـر افغانـستان بانـدې د پرديـو هيوادونـو د سـرتيرو يرغل پـه دې نـوم تـر سره شـو چـي د افغانستان په خير کنډواله هيواد بـه د سولي، سوکالي او پرمختـگ پـه لـور بيـايي، ځکه دوی خلکو تـه سره او شنه باغونه ښودلي وو، خو هغه کسان چي د امپريـاليزم پـه ماهيت او د پرديـو تـر واکمنـی لانـدې د ژونـد کولـو پـه معنا پوهيدل، د پرديـو سـرتيرو تـه يـي د تيـري کوونکـو پـه سـترگه کتـل او پـه دې هم پوهيـدل چـي دوی بـه هيڅکلـه د افغانستان ځپلي او دردليدونکي ولس ته سوله او سوکالي ورپـه برخـه نـه کړي، بلکـي افغانـان بـه هره ورځ د خپلو عزيزانو د وژلو او د خپلو کورونو او کليو د ويجاړولو شاهدان وي.

د بن له لومړۍ غونډې څخه پوره لس کاله تير شوي. د بهرنيانو د ژمنو پر بنسټ بايد د ميلياردونو ډالرو پـه لگولـو سره افغانستان په پرمختللي هيواد بدل شوی وای، خو لا تر اوسه کابل د يـوه عصري ښـار بڼـه غوره کړې نـه ده، ليرې پراته ولايتونه او ولسوالی خو اصلاً مطرح نـه دي. اداري فساد، مـالي مافيا، جنگسالاري، د ځمکـي مافيـا، د مخدره توکو مافيا، د خلکو بيوزلي او د طالبانو او نورو ترهگرو نـه ځپل او هغوی تـه لاوده ورکول د لومړي بن سوغات وو.

دويم بن هم د لومړي بن په څير د افغانستان پر اشغال ټينگار وکړ، ځکه يوازې يـي نـه پريږدي!! دويم بـن پرتـه لـه دې چـي د خلکو کړاونـه لازيـات کړي، بل څـه بـه ونکړي. هيڅ بهرنـی هيـواد پـه ځـانگړي توگـه ستر پانگـه وال هيوادونـه نـشي کـولای د افغانـانو لپـاره سوله او سوکالي راولـي، ځکه دوی پـه خپلـه د جگړو او نـاکراريو اصـلي عاملان دي. جگړه او ناکراري د سترو پانگه والو هيوادونو د بقا او په خپلو هيوادونو کي د بحرانونو او کړکيچونو د مخنيوي لپاره تر ټولو ښه ابزار گڼل کيږي. له راډيو آزادۍ سره يوه تن په ځواب کي وويل: په لومړي بن کي يي څه ...ول وکړل چي په دويم بن کي به يي وکړي.